# چالش ها ومشکلات فراه راه رسانه های ولایت لوگر

اگر یک نظر را به سیر و حرکت جوامع بشری بنمایم و نقش رسانه ها یا به عباره دیگر وسایل اطلاعات جمعی را با تعمق بیشتر به ارزیابی بگیریم به خوبی درمیابیم که مطبوعات یا وسایل اطلاعات جمعی که درآن رسانه های نوشتاری،صوتی وتصویری شامل میباشد ، امروزبه مثابه قوه چهارم در جهان جایگاه خود را احراز نموده است.

انکشافات واختراعات اخیر در آینه مطبوعات جهانیان را بیشتربه طرف پیشرفت واختراعات تازه سوق داده است.

نقش رسانه ها درعرصه های مختلف زندگی جوامع بشری ازاهمیت خاصی برخوردارا است که درکشورعزیزمان نیزرسانه ها دریک دهه اخیررشدچشمگیری داشته است، درولایت لوگرنیزاصحاب رسانه ها شاهد این پیشرفته بوده است.

مردم ولایت لوگر اکثراً علم پرور بوده و درکنار فرهنگ بومی فرهنگ عصری نیز دارد که مردم ولایت لوگر با گذشت هر روز سعی وتلاش شان را به خاطر رشد ، غنامندی و باوری این فرهنگ انجام داده اند و با تمام انرژی تلاش می ورزند تا این غنا مندی را گسترده تر جلوه نمایند.

فعالیت پنج رادیو وهفت نشریه چاپی درولایت لوگرنشانه پیشرفت رسانه ها دراین ولایت است که توسط بیش ازسی دست اندرکاران رسانه ها همه وقته درعرصه های مختلف برای شهروندان لوگراطلاع رسانی نموده اند. آنچه که بیشترمانع سرراه آنها میگردد چالش های امنیتی است که به مثل همه اقشارجامعه ژورنالیستان ولایت لوگرنیزبا آن دست وپنجه نرم میکنند.

ما تا حال در جریان سال های باوری "دیموکراسی" چندین فرزانه گان عرصه های وسایل اطلاعات جمعی را از دست داده ایم ویا اینکه درعرصه کاری با تهدید های مواجه هستند که جرم شان خد مت به مردم و انعکاس آرمان ها و خواست های مردمی بوده است.

دست اندرکاران رسانه ها درولایت لوگربا چالش های ذیل مواجه میباشد:

۱ عدم دسترسی کامل به اطلاعات.
۲ مشکلات امنیتی.
۳ اضعف اقتصادی.
۴ عدم حمایت همه جانبه دولت ومردم ازژورنالیستان.
۵ عدم حمایت دونرها ازرسانه ها.

پشنهاد میگردد تا مسئولین و دست اندرکاران رسانه وسایل اطلاعات جمعی در لوگر در پرتو قانون مطبوعات و رسانه ها کار و فعالیت های روزمره شان را عیار نمایند ، آنانیکه تحمل و حوصله مندی شنیدن و دیدن حقایق را ندارند نباید مانع فعالیت سکتور اطلاع دهی و اطلاع رسانی و تحلیل و تفسیر این همه عرصه ها گردد ، کارکنان وسایل اطلاعات جمعی در ولایت لوگر به ایجاد یک مرکز بزرگ به نام مرکز رسانه ها(میدیاسنتر) نیاز دارند تا باشد که از طریق این مرکز روند اطلاع دهی و روند تجزیه و تحلیل چالش های موجود فراه راه مطبوعات تا حدی تسریع یابد.

حمایت مردمی از یک طرف و حمایت دولتی از جانب دیگر به اهل مطبوعات قوت آنرا میبخشد تا دور از هر نوع دلهره و دغدغه وظایف روزمره شانرا به معنی اجرا درآورند.

فرهنگ ما باید از تاثیرات فرهنگ بیگانه و وارداتی در امان باشد زیرا یورش فرهنگ بیگانه و نا ملموس مارا به هر نگاه به نابودی سوق میدهد ،اصالت ورسالت افغان های که از ارشادات همیشه ماندگار دین مقدس اسلام سرچشمه میگرد نباید با این سادگی تحت شعاع فرهنگ بی بنیاد و بی اساس بیگانگان قرار گیرد.

اولیا امور وادار به این گردد که مطبوعات را آله دست خود قرار نداده بلکه آنرا ترجمان خواسته های مردم و بیانگر شرایط عینی جامع قرار دهند، حداقل نیازمندی های اهل مطبوعات که عبارت از سکون ذهنی ،حمایت معنوی و فزیکی، دسترسی اهل مطبوعات به اطلاعات روزمره و کمک مادی در بخش های تخنیکی میباشد، اگراین نیازمندی ها تا حدی مرفوع گردد دورنخواهد بود که پروسه روندکسب اطلاعات واطلاع دهی درلوگردریچه تازه یی خواهد گشود وفاصله های مردمی با دولت ورسانه ها کاهش خواهد یافت.

**ترتیب کننده : امین الله »صفا«**

# استاد دوری لوګری

استاد دوری لوګری (دور محمد) د ګل احمد زوی دی او په ۱۹۲۳م کال کې د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالۍ په دهنو کلي کې زیږیدلی دی. د موسیقۍ په برخه کې یې علمي زده کړې نه وې کړې، بلکې دا دخدای لورینه وه، چې ده ته یې ښه غږ او ځواکمنه وړتیا ورکړې وه. استاد دوری د اوسنۍ افغاني موسیقۍ د بنسټ ایښودونکو او سرلارو هنرمندانو په ډله کې راځي. هغه بنسټ ایښودونکي درانه استادان دي: (استاد قاسم، استاد غلام حسن، استاد نبي ګل، استاد سرآهنګ او استاد دوری لوګری)

استاد دوري په ۱۳۲۰ل کې د استاد بریښنا له خوا راډیو ته راوبلل شو او په دې توګه یې په همدې کال کې رسماً په راډیو کې په سندرو ویلو پیل وکړ، نو لومړنۍ سندره یې چې د راډیو له لارې خپره شوه، مطلع یې داسې وه:

ترمخ دې جار شم-تر ګل صفا یې

تر دې وروسته استاد دوري په ۱۳۴۳ل کې د موسیقۍ ته د ښه چوپړ په وياړ رسماً د لوګر د موسیقۍ د بنسټ ایښیدونکي او د موسیقۍ د استاد لقب ورکړل شو. سربیره پر دې په ۱۳۴۵ل کې د هنر د عالي میډال په ګټلو سرلوړی شو او په ۱۳۴٦ل کې یې لومړی درجه مطبوعاتي جایزه هم ترلاسه کړه.

همدا راز استاد د دویم ځل لپاره په ۱۳۵۴لمریز کال کې د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د ملي راډیو تلویزون او اطلاعاتو کلتور وزارت لخوا د موسیقۍ د غوره استاد لقب ګټلی دی. استاد دوري پر دې سربیره چې د موسیقۍ په ټولو آلاتو ښه برلاسی و؛ د شعر ویلو او د سندرو په کمپوز جوړونه کې یې هم لاس درلود.

اختر دی موري ځان به سینګار کړم
ځم له کوره دیدن د یار کړم

خپل شعر او کمپوز یې دی، چې په راډیو کې یې ثبت کړې ده. په پای کې د هیواد د موسیقۍ دغه نوموتې څیره په ۱۳۵۹ کال کې د لوګر ولایت په ملا محمد امان کلي کې د روسانو لخوا شهید کړای شو .د استاد جنازه په لوګر کې د هغه له کور څخه په درنو مراسمو سره واحسیتل شوه او په خپل پلارنۍ هدیره دهنو کې خاورو ته وسپارل شو ،خو د ده د مکتب په سلګونو زدکوونکو د ده په لاره ډیر روڼ مشالونه بل کړل، چې د استاد دوري لوګري یاد یې لا تراوسه ژوندی ساتلی دی.«اروا دې ښاده وي»

**عبدالرحمان »حبیب زوی«**

## په لوګر کې دسنځل ګل دودیزه مشاعره ...

دسنځل ګل په دودیزه مشاعره کې دنجونو له ډلې څخه بصیره ستانکزۍ ترتیب کړې شعر ولوستل، چې مفهوم یې سوله دهیواد لپاره اړین او مهم کار وباله او تاکید یې وکړ، چې ټول هیوادوال سولې ته ژمن ووسئ او ځوانان دزده کړو ترڅنګ خلکو ته دهیواد دآبادۍ او ترقۍ ذهنتونه ورکړي.

یوبل تن شاعر؛ دین محمد درویش د لوګر او سنځل ګل توصیف یې په شعر کې کړي ؤ، هم ولوستل. درویش د رسنیو په مسؤلینو غږ وکړ، چې کوښښ په دې وشي، چې نور د خبر په سرلیکونو کې د وژلو، ویجاړیو او ترور خبرونو پرځای د سوکالۍ، آبادۍ او پرمختګ سرلیکونه خپاره شي او دغې موخې ته هله افغان رسیدلی شي، ترڅو په خپلو منځو کې سره یو او دجګړو څخه لاس پر سر شي.

په یاده مشاعره کې دلوګر دبیلابیلو نارینه اوښځینه ښوونځیو دتراني ټیمونو خپلې ترانې، چې دپوهنې، وطنپالنې، نور په هیواد کې جنګ نه غواړو سوله غواړو ګډونوالو ته زمزمه کړې.

دشعر او شاعري لړۍ وروسته داطلاعاتو اوفرهنګ وزارت د سرپرست وزیر محمد رسول باوري پیغام دلوګرد اطلاعاتو او فرهنګ رییس محمد شفیق پوپل لخوا ولوستل شو. د پیغام په یوه څنډه کې وزیر خوښي څرګنده کړې وه، چې په لوګر کې د سنځل ګل مشاعره د سولې ترسرلیک لاندې لمانځل کیږي، ده له خلکو څخه غوښتنه کړې وه، چې دهیواد فرهنګي اړخونو او فرهنګي چارو په ساتنه کې لا زیاتو هڅو ته دوام او ساتنه یې وکړي.

لوګر والي محمد حلیم فدایي له ټولو شاعرانو اولیکوالو څخه وغوښتل چې په خپلو لیکنو اوشعرونو کې دې دسولې پیغام افغانانو ته منعکس کړي.

فدایي داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست، دسنځل ګل مشاعرې له کمیسیون او له ټولو اړونده ادارو چې دمشاعرې په جوړولو کې هلې ځلې کړې وي، مننه او قدرداني وکړه.

یاده مشاعره دسهار په نهو بجو پیل او دماسپښین دلمانځه تروخته دوام وکړه.

هیره دنه وي، چې دسنځل ګل په دودیزه مشاعره کې لاسي جوړوني (لاسي صنایع) ، دکتابونو نندارتون هم ننداري ته وړاندي شوې.

## لوګر کې د مجاهدینو د بریا ورځ...

غونډې ته په لومړي سرکې دلوګر والي محمد حلیم فدایي د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار راتګ د سولې بهیر لپاره ټول افغان ولس ته مبارکي وویله او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ولسمشر او د سولې شورا د هلو ځلو یې مننه وکړه.

والي زیاته کړه؛ د سولې بهیر لپاره د حزب اسلامي مشر راتګ نړۍ ته دا وښوده چې افغانان په خپلو منځونو کې که هرڅومره جنګ وکړي بیا هم سوله کولای شي او که افغانان د جګړې توان لري سولې توان هم لري.

حلیم فدایي سوله الهي امر او ابراهیمي سنت او د افغانانو لومړنۍ اړتیا یاده کړه. ده وویل، هرڅوک که د سولې لدې چانس څخه سرغړونه کوي په حقیقت کې د افغان شهیدانو وینو سره خیانت کول دي اود سولې سره مخالفت کول د خدای پاک امر سره مخالفت کول دي.

لوګر والي په وسله والو مخالفینو هم غږ وکړ چې راځئ تاسو هم د سولې لاره خپله کړئ.

والي وویل: دغویې د اتمې ورځې څخه دا زده کوو چې د ځمکې په سر وینه تویول لوی فساد دی او وینه بند ول لوی جهاد دی.



د ولایتي شورا غړي ډاکټر عبدالولي وکیل او د اجرائیه ریاست سلاکار حاجي سردار اغا هم په خپلو خبرو کې په وسله والو مخالفینو باندې غږ وکړ چې راشئ د حزب اسلامي غوندې د سولې بهیر ته لبیک ووایې اود سولې پروسې سره یوځای شئ او له ځانه د سولې اتلان جوړ کړئ ، دوی وړاندې وویل کابل په توره نه په سولې سره ونیسئ همدا رنګه سوله جهاد دی او جهاد د ټولو افتخار دی.

په غونډه کې د لوګر نوین خصوصي ښوونځي د زده کوونکو لخوا سولې په اړه لیکل شوې ترانه هم ګډونوالو ته وړاندې شوه.

غونډه په افغانستان کې د تل پاتې او دایمي سولې په راتګ دعایې سره پای ته ورسیده.

## اهدای یک جلد کتاب از سوی نورالله ستانکزی به موزیم ولایت لوگر

نورالله ستانکزی مسئول رادیو زینت ویک تن از باشنده گان فرهنگ دوست لوگر یک جلد کتاب را تحت عنوان (آثار تاریخی طلاتپه ) جهت تقویت بخشیدن موزیم محلی به محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات وفرهنگ لوگر اهدا کرد.



حین اهدای کتاب یاد شده آقای ستانکزی هدف از این کارخویش را غنامندی موزیم وتشویق سایرباشندگان این ولایت در حفظ ونگهداشت آثار تاریخی وتقویت فرهنگ اصیل کشور عنوان کرد. همچنان رئیس اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر این اقدام نیک آقای ستانکزی را یک گام مهم درحفظ آثارتاریخی کشور عنوان نموده واز تمام باشندگان لوگر خواستار سهیم شدن در تقویت فرهنگ محلی واصیل کشور گردید.

**محمد موسی »عدیل«**

## تجلیل از روز جهانی مطبوعات ...

استاد خلیلی الله توکلی مسئول فدراسیون وشوکاران لوگر میگوید که رسانه ها درساختن افکار مردم نقش محوری دارد اگر ژورنالیستان واقعیت ها اصلی جامعه وبرنامه های دینی را در اولویت های کاری شان قرار دهند یک گام نیک در عرصه خدمت گزاری به مردم خواهد بود.

در اخیر محفل خبرنگاران ازسوی معاون مقام ولایت ورئیس اطلاعات وفرهنگ مورد تقدیر قرار گرفتند. **محمد موسی »عدیل«**

## آکتاب دنړیوالې ورځې په مناسبت



# کتاب

د ژوند اساسي برخه ده، ډېر غوره ملګری دی، د تمدنونو ترمنځ د پول حیثیت لري، ستر ملتونه چې د پرمختګ او تمدن لوړو پوړیو ته رسېدلي، غښتلي لیکوال او څېړونکي یې درلودل، د کتاب د لوستونکو لېوال په کې زیات؛ همدا ده چې سوکاله ژوند یې په برخه شوی او د فرهنګ له پلوه بډایه شوي دي. کله چې په یوه ولس کې کتاب او کتاب لوستلو ته په درنښت وکتل شي، په حقیقت کې یې د خپلې ټولنې فرهنګي هویت ثابت کړی او بالعکس په یوه هېواد کې د کتاب او کتاب لوستنې د ارزښت کمېدل، په واقعیت کې د هغه هېواد د فرهنګي او فکري میراث محوه کېدل ښيي. دا ثابته شوې، هغه ولس چې کتاب نه لولي، باید چې ټول تاریخ تجربه کړي.

د پوهانو په اند ، د کتاب له لارې د انسانانو د تجربو لړۍ زرګونو کلونو ته رسېدلې ده، انساني ژوند ته یې تسلسل ورکړی. دا هغه وسیله ده، چې د انسانانو د ذهني روښانتیا لپاره یې ستر کارونه کړي دي.

د کتاب په برخه کې یو شمېر ټکي باید په پام کې ونیول شي؛

تر ټولو مهم د مطالعې د فرهنګ عامول او وده ورکول دي، د کتاب لوستلو مینه وال باید زیات شي. زموږ په هېواد کې په هغه کچه، چې باید کتابونه ولوستل شي، هومره مطالعه نه کېږي او آن دا چې، د مطالعې فرهنګ په ډېره ټیټه کچه یا له نشت سره برابر دی. دغه مسئله د کتابونو له پلور او پېر څخه له ورایه جوتېږي؛ په هغه کچه چې زموږ په ټولنه کې کتابونه چاپېږي، پېرل او اخیستل یې بیا کمرنګه . نو په کار ده، لکه د ژوند په ورځنیو چارو کې، چې بل هر کار ته وخت ورکول کېږي، په ورځ کې یوه برخه د مطالعې لپاره هم ځانګړې شي او په دې اړه لازمي ده، چې وویل شي، د تلویزیون او انټرنټي رسنیو په راوتلو سره، نه باید چې خلک له کتاب ویلو څخه منصرف شي.

که زموږ هېوادوال د کتاب لوستلو ته وخت ورکړي او په ارزښت ورته قایل شي، نو د کتاب تقاضا به ورسره زیاته شي، چې په دې سره به د هېواد اقتصاد هم څه ناڅه پیاوړی او غښتلی شي. نن ورځ فرهنګ یوه مهمه اقتصادي سرچینه ګڼل کېږي، په پرمختللیو هېوادونو کې د هغوی د عوایدو یوه برخه له فرهنګي فعالیتونو برابرېږي، دغه راز مشهور لیکوال په کې د کتاب خپرولو او حق الزحمو اخیستو له لارې پانګه وال شوي دي، خو زموږ په ټولنه کې لا دې چارو ته چندان پاملرنه، نه کېږي.

د کتاب په اړه بله مهمه خبره دا ده، چې موږ نه یوازې دا چې د کتابونو په لوستلو کې برخه واخلو بلکې په ساتنه او پالنه کې یې هم رغنده رول ولرو، ځکه په کتابونو کې د بشري نسلونو د فکرونو او تجربو زېرمې نغښتې دي. نو د کتاب د لوستلو د فرهنګ د دودولو لپاره مهمه ده، چې لومړی کتابونه زیات شي، کتاب لیکوالو ته د دولت له خوا معاش او کلني جوایز ورکړل شي، د کتاب لوستلو سیالۍ ترسره شي، د لیکنې او ژباړې مرکزونه جوړ شي، علمي کتابونه را وژباړل شي، د کتاب د چاپ حق خوندي شي، کتاب چاپول او خپرېدل یې معیاري شي، کتاب پلورنځي زیات شي، پوهنتونونه، دولتي او خپلواکې ادارې په ورځپاڼو کې کلنۍ داخله واخلي ځانګړې کړي، د کتاب لوستلو ستر ستر کمپاینونه ترسره شي، په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د کتاب نندارتونونه جوړ کړل شي، په تعلیمي او تحصیلي نصاب کې د مطالعې لپاره ځای ورکړل شي.

**لیکنه : بصیره ستانکزی**